مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۰۸

# غزل

داسي انسان شته چې شیطان دې غولولی نه وي!؟
داسي افغان شتـه چـې جـهـان دې غولولی نه وي!؟

لړ. خو را وښایـه یو داسي سیاسي قهرمان!
چې لړ. تـر لـړه پاکسـتـان دې غولولی نـه وي!؟

کوم یو رهبر، کوم سیاستپوه او مبارز بـه لـرو!؟
چې کـوم باجـوه یـا عمران خان دې غولولی نه وي!؟

خدای ته مخ کړه ما تـه شـا کړه په ایمان ووایه!
چې ستا دې ګټه وي او ځان دې غولولی نه وي!؟

ای نـریـوالـه، ای انـګـرېـزه ای مـغـولـه وایـه!
کوم پښتون شته چې په ایمان دې غولولی نه وي!؟

داسي سجـده دې لګولي چې له ځانه ورک شي!؟
او بیا پخپل نظر اسمان دې غـولـولـی نـه وي!؟

داسي وخت شته چې د قام هیلي قتل شوي نه وي!؟
او د بـاور د زړه ارمان دې غـولـولـی نـه وي!؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ